# نصیحت

شیخ د. عبد القادر الصوفی

۲۰۰۶ - ۰۴ -۰۴

اللّه تعالی په سورة الحجر (۱۵:۵۶) کښ اعلان کوی :

قَالَ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾

"اووئیل د خپل رب د رحمت نه
خو صرف گمراه خلق نا امیده کیدی شی."

اللّه جلّ شانهُ په سورة الزمر (۳۹:۵۳) کښ هم اعلان کوی:

قُلْ يَٰعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن
رَّحْمَةِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾

اوویه چه ای زما هغه بندگانو چه په خپلو ځانونو مو زیاتی کړی دی.
د اللّه د رحمت نه نا امیده کیږئ مهٔ، یقیناً اللّه ټول گناهونه معاف کوی.
هغه خو بخښونکی مهربانه دی."

دا پیغام د هغه عظیم الشان او متحد ولس په نوم دی. ځوک چه د هغی منطقی

اوسیدونکی دی چه نن صبا د نقلی قومی اکائیو افغانستان، پاکستان او کشمیر په نوم شهرت لری، د تاریخی او منظقائی شواهد په لحاظ سره د دغی پولو هیڅ وجود نشته. لیکن دغه منطقی ډومبي په سیاسی توګه او بیا زمونږ په وختونو کښ د مالی آمریت په وسیله جدا کړی شوی. ددی موقع په مناسبت سره دا خبره ختمی ده. چه په دی غرونو، صحراګانو، میدانونو اور ښارونو کښ موجود زمونږ زړه پوری خلق دا خپله بنیادی او اهم فریضه ادا کړی کومی چه مونږ په خپلو کښ یوځائ کړی یو. هغه سویلی منطقه چه ورته افغانستان وئیلی کیږی. دهغی په حوالے سره دا خبره د یاد ساتلو وړ ده. چه ګډاګی کرزائی د خپل قوم سره خائن او غدار دی په نوی سیاسی ژبه کښ هغه ته کوزلنګ وائی. کوزلنګ د ناروي د ملک هغه خائن وُو چه د المانی نازی دولت له طرف نه د ناروي په عوامو باندی مسلط کړي شوی وُو. موجوده حالاتو کښ دا یو مقبوضه هیواد دی. او کافر قابض ځواکونو هغه د خپلی بد اخلاقي او بربریت نښه جوړه کړے ده. دی عسکرو د خپل تکبر او کم نظری له سببه د مخکینو حمله آورو عسکرو د انجام نه هیڅ سبق وا نه خسته د کومو چه دا وهم وُو چه هغوی ده منطقه په خپل اختیارو قدرت کښ ساتلی شی. خو دا لویه شرانګیزه خبره ده چه په فکری توګه غیرمحفوظه قابض فوځ نه ډیر زیات خطرناک په هغه منطقه کښ کارکونکی غیردولتی تنظیمونه دی.

که چرته ددی منطقی خلق د بی حده مشکلاتو سره مخامخ نۀ وی. نو د هغوی د ځان وژونکو انداختونو په حقله اندیښناک خبرونه به مونږ ته نۀ رارسیدل. د قابض فوځ په خلاف په جهاد کښ په چابکدستی سره مشغوله علماءِ اور قومندانان په نامه په فوری توګه ځه دا پیغام استوم چه ځوانان هلکان په ځان وژونکو تعارضونو دپاره روانولو موجوده عمل نه مونږ په سختي سره منع کړی شوی یو او ددی ناروا کیدل مونږ لره د مزاحمت د نورو صورتونو نه نۀ منع کوی.

اوّل خو ځان وژل په هر حال کښ منع دی خواه که د هغی اسباب ذاتی وی یا سیاسی یا تاکتیکی. او بیا داسی خلقو دپاره په احادیثو کښ سخت وعید راغلی دی کوم چه په دی طریقی سره د خپل ژوندون خاتمه اوکړی. او په آخرت کښ د هغوی دپاره دائم عذاب به د خپل ځان په هم دغه طریقی سره وژل وی. زمونږ پوره تاریخ شاهد دی چه په هیڅ یو اسلامی جنګی مهم کښ د ځان وژنی مثال په نظر نه راځی. دا خو د شیعه مذهب والا کافر اسماعیلی ډلی رسم و رواج دی.

په تیر شوی وخت کښ د مسلمانانو د نختو او معرکو ادب په عملی توګه د فُتُوّا (سرِیتوب) د اخلاقی ذمه وارو، ضابطو او حدودو کښ راغلي دي.

اللّه جلّ شانهُ په سورة الکهف (۱۸:۱۳) کښ بیانوی:

إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ءَامَنُوا۟ بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَٰهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾

"هغوئ یو څو ځونان وُو چه پخپل رب باندی ایمان راوړی وُو.
او مونږه ورله په هدایت کښ ترقی ورکړی وه."

د فُتُوّا اعلی ترین درجه ایثار دي. ددی مطلب دا دي چه د خپل رور ژوند ته په خپل ژوند باندی فوقیت ورکړي شی. لیکن د فلسطین بی شرمه پلاران او اوس په آخره کښ د اسلامی نړی سړی د خپل ځان په ځائی خپل ځامن د ځان وژونکی چودنو دپاره د لیږلو په دی طریقه کار کښ د ایثار پهلو کوم ځائ کښ ده؟ د ځان وژونکی چودنو په مطلقًا شرمناک عمل کښ نه صرف ځان وژنی عمل حرام دی بلکه په شرعی نقطهٔ نظر

سره دا د یو جرم په سرزد کولو باندی څوک راضی کول دی. هغه سړی چه یو ځوان ته د ځان وژنی هدایات ورکوی او هغه سړی چه د هغه په بدن پوری د بارودو پټي تړی او هغه سړي چه هغه د ټکړی کیدو ځاي ته رسوی. دغه قسمه ټول افراد ددی ځان وژونکی مسلمان ځوان د قاتلانو په صف کښ دی ادرولی شی. د خپل ځان په ختمولو سره فتح نۀ نصیب کیږی. إمام جنید رحمة اللّٰه علیه فرمائیلی دی: "که چرته د یو عمل په قبولیت کښ دی شک وی نو دا تصور کړه چه تا په عملی توګه دا کار اوکړه او د هغی نتائج دی ۇلیدل. اس که چرته په نتائجو کښ څه د بدي پهلو وی نو ددی نه اجتناب اوکړه". اوس که چرته په ځان وژونکی پالیسی باندی عمل کولو والا ته کامیابی نصیب کیږی نو دده والد دی یو قدم راوړاندی شی او اودی وائی: "څه په ډیر فخر سره تاسو ته وائیلی شم چه ما خپل ځوي د مرګ سره ملاقات ته ولیږه. او څه ستاسو د ځامنو مناسب واکمن یم". لیکن که چرته د هغه سیاست روبشکست ثابت شی. نو بیا هغه دی خپلو خلقو ته اعلانیه اووائی: "مونږ تر اوسه د غلامی په ځنځیرونو کښ تړلی شوی یو. لیکن د بدقسمتی نه په نوی نسلونو کښ ددی جهاد جاری ساتلو دپاره زمونږ ځامن باقی پاتی نه شو".

هغه دولتی اوراق دکومو په رو کښ چه په دی منطقو حکمرانی پکار ده. هغه "فتاوات العالمګیری" ده. دا د فقهی یو عظیم کتاب دی. کوم چه یو طاقتور سلطان اورنګزیب تألیف کړی دی. اللّٰه تعالی دی هغه ولی او مجاهد ته جزاء خیر ورکړی. دا خبره ډیره زیاته مهمه ده. چه زمونږ معزز دیوبندی علماء هیڅ یوه معمولی مسئله هم هغوی ته د ورسیدلی فقهی نه لری یو نۀ سی. او هم دغه شان ددهغی مصیبت په رنړه کښ کوم چه په دی ملک نازل شوی دی. د دغه قیادت له طرفه کوم سره چه کله مونږ ارتباط اونیوو نو په هغه وخت کښ هم په آزادانه توګه د امریکی د تیلو کمپنوں سره په خبرو اترو کښ مصروفه وو. د هغوی دپاره دا خبره په بالکل واضحه انداز کښ پکار ده. چه د

مسلمانانو مجاهدو په صفونو کښې د مشکوکه عربو مهم جویانو نفوذ کول د موجوده مصیبت علت جوړ شوی دی.

فقط جدید قیادت د اسلام بیرغ اوچتولی شی. او په دی پوره حطهء همالیه او د هغی چاپیره واقع میدانونو اوښارونو کښې د امید وسیله گرځیدی شی.

په داسی حالاتو کښې دیوبندیان اور بریلیانو له خپلو کښې د شرم ډک اختلافات ختمول پکار دی. لیکن دا تر هغه وخت پوری ختمیدلی نه شی. تر څو پوری چه د تقسیمات قریه والا پالیسی باندی عمل کیږی. د تقسیمات قریه نه ځما مراد دیوبندی اور بریلوی فکری مکتبونه دی ولی چه دا په هغه وخت کښې په عمل کښې راغلل. کله چه علماؤ د واپسی لاره اختیار کړه. او کوم وخت چه عظیم مغل خلافت نه اسلامی امر په زور واخستی شو. هم دغه شان د هغوی د وجود په ړومبنی روغ باندی هغوی هغه اسلامی امر جاری کړه. کوم چه د یو داسی لازمی شرط نه بغیر وو. په کوم باندی چه د شریعت دارومدار دی. د امر جاری کولو مرکز د دهلی ښار وو او دهلی د کافر انگریزوں په قبضه کښې ورغی. له دی سببه دا څه حادثه نه ده. چه دهغویو ورثاؤ هندو بت پرستانو د خپل منطقی انتخاب بنارس ښار په ځائ د مغلو پلازمینی په خپله قبضه وقدرت کښې وخسته. دیوبندیانو اور بریلیانو له ددئ خبری یقین دهانی پکار ده. چه د کومه نه هغوی انکار هم نشی کولی.چه هغوی په خپلو کلہوکوډو کښې فتاوات عالمگیری سره د دهلی ښار نه ؤتی دی. هم دغه ځمونږ موجوده چیلنج او معامله ده.

اللّٰه پاک نه دعا ده چه مونږ د یو داسی نوی قیادت د لاندی راجمع کړی چه د مسلمانانو د خدمت دپاره دینی جذبه لاری. او مونږ یی په داسی محبت سره تصدیق اوکړو. لکه څه رنگه چه په تیری شوی صدو کښې ځمونږ مشران یی مستحق ؤو. آمین